حبیب مایار ۲۰۱۰/۰۳/۲۳م

# ناوړه مرستې ناوړه پایلې

وړتیا او استعداد هغه ځواك دی چې لرونکی یې د چا د ناروا مرستې په تکل کې نه وي؛ بلکې هر وخت کولای شي چې له خپلې وړتیا او استعداد څخه کار واخلي. طالبانو په خپله مخکینۍ دوره کې کوم څوک په زور په لمانځه درولی و، خو هغه له ځانه سره په زړه کې ویلي و، چې لمانځه ته خو دې ودرولم؛ خو وایي به یې څوک. په رښتیا هم کوم کار چې د علاقې، استعداد او اخلاص له مخې ترسره نه شي سمې پایلې نه لري.
پخوانو ویلي چې په زور کلي نه جوړېږي، رښتیا یې ویلي، کله چې یو څوک په یو مسلک پوه نه شي، هېڅ کله به هم ونشي کولای چې په هغه برخه کې پرمختګ وکړي. که چېرې یو بزګر ته د حقوقو د پوهنځي او یا هم د کوم بل پوهنځي دیپلوم ورکړو، فکر نه کوم چې کومه ګټه ورته وکړي او یا هم نوموړی بزګر د حقوقي مسایلو په برخه کې ټولنې ته څه وکړي، که یوازې د سند لپاره وي نو سمه ده د دیپلوم له مخې به په یوه پوست کې وټاکل شي خو هغه څوکۍ او هغه پوست خو هم له نوموړي څخه د همغه مسلک اړوند کار غواړي. بیا به هغه وخت کار پر چا کوي.
زه د همداسې یوې پېښې پایله له تاسې سره شریکوم چې هغه هند ته د دوولسم ټولګي د فارغینو د لېږلو په اړه ده. هند ته د بورسونو بریالي اوس له هند څخه راتښتي ځکه هغوی فکر کاوه چې اوس خو مې واسطه وکړه هلته به هم همداسې په مخ روان یم، خو په دې نه پوهېدو چې هغه بیا د افغانستان فضا نه ده، چې هر څه د قوارې، پېژندنې، قومیت، ژبې او داسې نورو ملحوظاتو له مخې ترسره کېږي، بلکې هلته وړتیا، پوهه او خپله توانایي په نظر کې نیول کېږي.
ځکه چې ډېر هند ته تلونکي افغان زده کوونکي هلته په تدریسي ژبه د نه پوهیدو اوناسمې زده کړې له امله په دې نه دي توانېدلي چې هلته خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. هند په افغانستان کې د طالبانو د رژیم تر نسکورېدو وروسته د نوي دولت له پیل سره سم د نورو ټولنیزو مرستو تر څنګ د لوړوزده کړود پیاوړتیا په موخه په ۲۰۰۶ زېږدیز کال کې د۲۵۰۰ تحصیلي بورسونو اعلان وکړ.
په نوي ډیلي کې د مېشت خبریال محمد صادق رښتیني په وینا په تېرو څلورو کلونو کې ۲۰۰۰ زره افغان محصلین د هندوستان له خوا په ورکړل شوو تحصیلي بورسونو او همدې ته په ورته شمېر کې په خپلو شخصي لګښتونو هند ته د زده کړې لپاره هند ته راغلي دي.

د نوموړي په وینا هغه زده کوونکي چې په افغانستان کې یې دولسم ټولګی په لومړي دویمه یادرېیمه درجه لوستی وي په انګلیسي ژبه مهارت ولري د افغانستان د لوړوزده کړو د وزارت له خوا له یوې ازموینې وروسته په هندي پوهنتونو کې د لوړو زده کړو چانس تر لاسه کوي اوبریالي شوي ۵۰۰ زده کونکي په کې هند د اقتصاد، سیاسي او اجتماعي علومو او(پنځوس تنه) د انجینرۍ پوهنځي ته مني.
خو دا چې ډېرى افغانانو په هند کې له څه مودې تېرولو څخه وروسته پښې د افغانستان په لور سپکې کړې او له هغې بورس څخه تښتېدلي چې یو او بل وزیر، وکیل او رئیس ته یې زارۍ کړې او هغه هم د اړیکو، پېژندنې او یا هم د ځینو لاملونو له مخې نوموړي ته د دې کار زمینه برابره کړې څو نوموړی په هند کې لوړې زده کړې وکړي او په راتلونکي کې پوهاند ودیرصافي، موسسې وردګ او نور ورڅخه جوړ شي. خو نه داسې ونه شول او هېڅ به هم ترې جوړ نه شي؛ ځکه ډېرى یې بېرته هېواد ته راستانه شول.
په داسې حال کې چې د یو بل مستحق، لایق او وړ افغان د تلو مخه یې هم ډب کړه د هغه حق یې هم وخوړ خو خپله یې هم ورڅخه ګټه ترلاسه نه کړای شوه.
د دې ستونزې ډېره پړه د هغو کسانو پر غاړه ده چې له دې کسانو څخه د ازموینې اخیستلو په وخت کې دې ته نه ګوري چې په هند کې د انجینري پوهنځي لپاره باید څه ډول کسان غوره شي، هند ته د انجینري پوهنځي لپاره ډېر داسې کسان لېږل شوي دي چې نه یې ریاضي سمه زده ده او نه هم په انګلیسي پوهېږي چې له همدې امله د ځان لپاره د تښتې لاره ټاکي.
تر دې مخکې به چې کله هم د واسطې، رابطې او فساد خبره کوله نو په لومړي سر کې به یې د بهرنیو چارو وزارت ته ګوته نیوله خو اوس وینو چې د بهرنیو چارو وزارت په څنګ کې یو بل وزارت هم شته چې د رشوت، فساد، واسطې او رابطې پېښې په کې ډېرې تر سترګو کېږي او ان تر دې چې په خپله د وزارت چارواکو ته هم دا یوه ستونزمنه خبره شوه چې د دوی له خوا څخه ټاکل شوي کسان د پوهې د ټیټوالي او نه وړتیا له امله بېرته خپلو کورونو ته پناه وړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا د ناوړه مرستو پایله ده چې هېڅ کله به هم سمه پایله ورنه کړي. که چېرې دې کسانو ته فکر وکړو دوی هم خپل ځان، خپلې کورنۍ، خپلوانو او هم هغې کسانو ته وشرمېدل چې دوی ورڅخه د مرستې غوښتنه کړې وه. له دې څخه باید هم مرسته غوښتونکي او هم له دې ډول کسانو سره مرسته کوونکي عبرت واخلي څو نه د بل چا حق سوزل شوی وي او نه هم دوی خپله په شرمو شرمېدلي وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ